# طالب زوی خپل دولت پلوی پلار شهید کړ

د جوزجان ولایت په فیض اباد ولسوالی کې د حکومتي خواکونو د ۵۰ کسیزې ولې قوماندان، ورمه شپه له خپل طالب زوی سره د اوږدې جګړې په پای کې شهید شو. د فیض اباد ولسوال انجنیر افشاه ازادی راډیو ته وویل ۶۰ کلن باز محمد د یوځ پخوانی ډګروال او د کوکلداش سیمې د امنیتي قرارګاه قوماندان او فریدون زوی یې وسله وال طالب و او د شبرغان-مزار شریف د لارې په اوږدو کې یې فعالیت کاوه. د دغه پلار او زوی دښمني د افغانستان د جګړې ربښتیني روایت دی. په دې اړه په یوه راپور کې راغلي، چې باز محمد وسله وال مخالفین سولې ته هڅول. شاغلي باز محمد آزادي راډیو ته ویلې وو «د هرې جګړې پای سوله ده. موږ د نابوهی له کبله دا مصیبت پر خان راوستی. که یوه شو، په هېواد کې له سولې پرته بله لاره نشته او په نورو هېوادونو کې هم له جګړو وروسته بالاخره سوله شوې.» د فیض اباد ولسوال وویل ډګروال باز محمد او ۱۱ سرتیري یې چې د ورمې شپې په نښته کې شهیدان شول، پرون خاورو ته وسپارل شول.

# ...نستانه د ځواکونو د ایستلو مهالویش نشته

...چې د امریکا د کانګریس یو شمېر غړیو له افغانستانه د امریکايي پوځیانو د ایستلو د احتمال په وړاندې خبرداری...
...دوال برېکړه به په امریکا کې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې د حملو په شان د بلې پېښې سبب شي

...ب ورمه
...نستانه د
...ي کوم
...دا خبره

ویل چې د ا ډول پرېکړه به په امریکا کې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې د حملو په شان د بلې پېښې سبب شي. ولسمشر ټرمپ په فرانسه کې

ایستلو لپاره کوم مهالویش نشته او نه په دې برخه کې بیړه لرو. ټرمپ تېره اوونی په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو رول احمقانه بللی و خو...

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**